# په افغانستان کي دښووني اوروزني لنډه تاريخچه

ښوونه او روزنه پر مځکه باندي د حضرت انسان د را پيدا کېدو له وخته پيل سوې ده او تر هغو چي دا مځکه او اسمان وي او همدا انسان پر مېشت وي ، ښوونه او روزنه به ورسره سمه دمه ملګرې وي . دهغې په شکل او کيفيت کي له هماغه لومړي سره بيا ترننه هر وخت د زمان او مکان له غوښتنو سره سم بدلونونه راغلي دي ، لوړاوځوړ يې ليدلي دي او دا بهير به همداسي روان وي .

پر دغه سيمه چي اوس يې نړيوال د افغانستان په نامه پېژني ، دښووني اوروزني بېلابېل ډولونه او پړاوونه راغلي اوتېرسوي دي چي څېړنه يې دپنډو پنډو کتابو ليکلوته اړتيا لري ، خو زه به يې له هغه وخته را و نښلوم چي دې تاريخي سيمي ته داسلام د سپيڅلي دين رڼا را و رسېدله او د دې سيمي د اوسېدونکو پر ټول ژوند يې ژوري اغېزې وکړې او ټول هغه بنسټونه اومرکزونه يې ،چي تر دې پخوا يې د ښووني او روزني له پاره کارکاوه ، له بېخ و بنياده څخه داسلامي پوهني اوښووني په رنګ ورنګول او له همدې وخته څخه د مدرسې عربي کلمه دښووني او روزني د مرکز په معنا د شاه او ګدا غوږو ته و رسېده. مدرسه د ښووني او روزني لومړنی مرکز سو او د ودانۍ له پاره يې له مسجد څخه کار واخيستل سو . مسجداو مدرسه تر زياتو وختونو پوري د اسلامي عباداتو د اداکولو او د اسلامي ښووني او روزني د دزده کولو ځای سو.

د سامانيانو، غزنويانو، سلجوقيانو، غوريانو، خوارزمشاهانو، ګورګانيانو، هوتکيانو او ابداليانو په وختوکي د تعليم او تربيې مرکزونه يا دننه په مسجد کي يا هم د وخت د اقتصادي شرايطوسره سم تر مسجد د باندي د مدرسو په شکل فعال وو. د افغانستان ځيني لوړعلماء او مشايخ لکه بلخي ابن سينا ، ابوريحان البيروني ، ابونصر فارابي ، خواجه عبدالله انصاري ، امام فخر الدين محمد رازي ، امام محمد غزالي ، مولانا نورالدين عبدالرحمن جامي ، پير روښان ، اخوند درويزه ننګرهاري ، علامه حبيب الله فاضل قندهاري او نور نن ورځ په سيمه او نړۍ کي پېژندل سوي شخصيتونه دي .



دمعاصرافغانستان دتاسيس له وخته چي تاداو يې دلوی احمدشاه بابا( ۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶هـ ق) له پاچا کېدوسره سم کښېښوول سو ، دښووني اوروزني په برخه کي ښه پوره بدلون راغئ . دلوی احمدشاه بابا د زعامت دوره پر افغانستان باندي د علم د پلوشو د راخپرېد و دوره وه . دی پخپله هم عالم ، متصوف او شاعر و . ده د خپلي واکمنۍ په دوران کي هرکله د علمي کورنيو پالني او روزني ته زياته پاملرنه کوله . د ده په دربار کي د وخت ډېر لوی عالمان راغونډ سوي وو. ملا شاهو اخوند ،چي په ملا ارادت باندي مشهورو، ملا پيرمحمد کاکړ چي د پښتو شاعرانو په صف کي ډېر اوچت ځای لري ، د لوی احمدشاه بابا د وخت لوی مدرس ملايان وو . پيرمحمد کاکړ غوښتل ، چي دپښتوژبې زده کړه هم دهغه وخت په تدريسي نصاب کي شامله سي او د همدې مقصد له پاره يې د" معرفت الافغاني " په نامه يو کتاب هم و کيښ . دغه د لوی احمدشاه بابا په وخت کي دهرات د سلجوقيانوکورنۍ ، دپېښوردامازوداوسېدونکي

ترکمان بن تاج خان کورنۍ ، دکندهارپه بارکزیوکي دخانعلوم کورنۍ ، دملااسماعیل الکوزي کورنۍ ، دقاضي غلام محمدهوتک کورنۍ دملاباېړمسه خېل کورنۍ ، دهرات دبرناباد د میرزایانو کورنۍ، دمجددیانوکورنۍ ، دعبدالله خان وکیل الدوله پوپلزي کورنۍ اونورو د احمدشاهي دولت ترحمایت لاندي دښووني اوروزني چاري دخصوصي مدرسوله لاري پرمخ بېولې . د دغه عصر په لویو مدرِسو عالمانوکي دمیافقیرالله جلال آبادي ثم الشکارپوري، دځمکنو د میاعمر صاحب رحمه الله علیه ، زوی یې محمدي صاحبزاده ځمکنی ، دکندهار د ملافرح الدین مشهورپه اخوندصاحب ، ملاپیرمحمد کاکړ ( شاعر) ، ملاشیرمحمدهوتک ، میانورمحمد داوی، میا نور محمد نورزی (دمناري میاصاحب )، ملا احمدالکوزی ، ملافیض الله کاکړ (دوزیرشاولي خان دکورنۍ استاد)، قاضي فیض الله خان دولتشاهي ،....نومونه دیادوني وړدي .

ددغه وخت دعنعنوي ښووني اوروزني پیل له قاعدۀ بغدادیه څخه شروع کېدئ اوپه هغه کي به شاګرد د الفبا توري او د هغوحرکتونه ( زبر ، زېر ، پېښ ، شد ، مد او سکون ) زده کول . دهغه وخت د مدرسو تدریسي نصاب زیاتره پر منقولو علومو باندي ولاړ و . اوپه هغه کي صرف ، نحو ، معاني ( تشریح ) ، فقه ، اصول فقه ، حکمت، منطق ، تفسیر، اصول حدیث اوحدیث شامل وو. دغه تدریسي نصاب تر وروستیو کلونو پوري ان تر نن ورځي پوري لا هم تعقیبیږي . په صرف کي صرف بهایی اوصرف میر لومړني کتابونه دي ، په نحوکي شرح جامي او عبدالغفور، په معاني مختصرالمعاني اومطول ، په فقه کي پر قدوري ، مختصراو مستخلص سربېره هدایي اوشرح وقایه ، په حکمت کي میبذي او صدراء ، په منطق کي پر ایساغوجي سر بېره قاضي او حمدالله ، په تفسیر کي جلالین ، روح المعاني او بیضاوي ، په حدیثو کي مشکوه او بخاري .... تدریسیدل . دتدریس له پاره ټاکلې موده نه وه اینښول سوې . د هر زده کوونکي په استعداد او امکاناتو یې اړه درلوده . دنصاب تر بشپړېدو وروسته یې دفراغت سند( بګړۍ تړل) ترلاسه کول او د تدریس حق یې ګاټه . د مدرسو تدریس زیاتره د مضامینو پر میخانیک ضبطولو اوحفظ کولوباندي ولاړ و . شاګردانو به د کتاب د متن ان جملي لاپه یادولې .

د مدرسو لګښتونه زیاتره د محلي خلکو پر غاړه وه او کله کله به دولت هم یولړمصارف پر غاړه اخیستل . زده کوونکي به زیاتره په هماغه مدرسو( مسجدو)کي اوسېدل . د علومو د زده کړي په منظور به زده کوونکي تر لیرولیرو سیمو پوري تلل . د افغانستان زده کوونکو زیاتره د پېښور اود هندوستان د نورو مدرسو او عالمانو په تلاښ تر همدغوسیمو پوري دسفر تکالیف ګالل . دهیواد د شمالي سیموطالب العلمان به د بخارا تر علمي حوزو او د لویدیزو برخو دا دپارس ترسیمو( مشهد ) پوري او ان تربغداداو حجاز تر سیموپوري سفرونه کول .



د لوی احمدشاه تروفات وروسته د ده زوی تیمورشاه پرتخت کښېنوست . د ده په وخت د ښووني او روزني هماغه پخوانی دود و دستور و پالل سواوپرڅنګ یې د شعر و ادب د ودي له پاره محدودي هڅي وسوې . دلوی احمدشاه او تیمورشاه زمانه موږدتعلیم اوتربیې په لحاظ هم مثبته ارزیابي کولای سو او د دې دلیل یوهم داخبره کېدلای سي چي دا دواړه پاچهان پخپله هم د علم په ګېنه سمبال کسان او د پښتو او پارسي ژبي شاعران وو .

د تیمورشاه تر مرګ وروسته د ده د اولادو دوره په افغانستان کي د تاج وتخت پر سر د کورنیوجګړو دوره او د افغانستان په تاریخ کي یوه له ناخوالو ډکه دوره ده . په داسي حالاتو کي طبیعي



ده ، چي د ښووني او روزني توقع هم نسي کېدلای . البته اولس پخپله هڅه دمسجدواو ځینو خصوصي مدرسو له لاري خپلواولادوته په ډېره لږ فیصدي تعلیم اواسلامي ښوونه ور زده کوله . خو دا هڅي په درياب کي يو څاڅکی بلل کیږي . د تیمورشاه د اولادو تر منځ کورنیو بې اتفاقیو او جګړو افغانستان ته د بهرنیانولاسونه را اوږده کړل او په نتیجه کي افغانستان د انګرېزي استعمارګرانو د اسانو د پښو په دوړو کي پایماله سو . په دې اړ و دوړ کي د پاچهۍ تخت له سدوزو څخه بارکزو ته انتقال سو او امیردوست محمدخان یې دوه واره تخت ته ورساوه . د امیر دوست محمد خان دواړي دورې که دافغانستان د یوموټي کولواو د یوه مرکزي دولت د ټینګولو له پاره تر يوې اندازې ګټوري ګڼل سوي دي ، خو څرنګه چي امیر پخپله د علم و پوهي څښتن نه و ، ځکه یې نو د ښووني او روزني کار ته نه وخت موندلی او نه یې کومه مینه ورسره ښوولې ده . تر ده وروسته بیا د ده د زامنو تر منځ د تاج و تخت پر سر جګړې پیل سوي دي او د افغانستان یو والی دړي وړي سوی دئ . د امیر شیرعلیخان لومړی واړپاچهي ، دامیرمحمدافضل خان اوامیر محمداعظم خان پاچهۍ هم ټولي په جګړو او لالهاندیو تېري سوي دي .



د امیر شیرعلي خان دوهم وار پاچهۍ په افغانستان کي د مدني ژوند د بیاسمبالولوله پاره زمینه برابره کړه او امیر هم پخپله له دې چارو سره علاقه مند سړی و . د ده په وخت کي د حربي ښووني او روزني په نیامت دوه مکتبه تاسیس سول . لومړی یې د کابل په شیرپورکي و ، چي د زده کوونکو له پاره یې یوه لیلیه هم درلوده او ټول لګښتونه یې د دولت له خوا پوره کېدل . وایي چي د دې مکتب دزده کوونکو شمېر ۳۰۰ تنه وو . ددې مکتب په تعلیمي نصاب کي پر قرائت ، دیني علومو او لیک سربېره نظامي قواعد هم ښوول کېدل . دوهم مکتب د کابل په بالاحصارکي پرانیستل سو او په هغه کي د هیواد خانزاده ګانو ته ښوونه او روزنه ور کول کېده . د دې مکتب په نصاب کي د حقوقو، سیاست ، اداري او ادب مضمونونه شامل ول او لیلیه یې نه درلوده ځکه دا خانزاده ګان په بالاحصار کي د امیر تر نظارت لاندي اوسېدل . د دې دواړو مکتبو سرښته د قاضي عبدالقادر پر غاړه وه. وایي چي دی د امیر له خوا د پوهني افتخاري وزیرهم ټاکل سوی و. خو دمکتبو چاري په سر سره د امیر شیرعلي خان له خوا څارل کېدلې . د دې دوو رسمي مکتبو پر څنګ په هیواد کي خصوصي مدرسې هم فعالي وې .

په دغه وخت کي د شمس النهار په نامه یوه جریده هم تاسیس سوه ، چي ځینومورخینو یې د سرپرستۍ چاري د همدغه قاضي عبدالقادر له خواګڼلي دي . خودشمس النهارجریده دعبدالعلی نامي له خواسرته رسېدلې .

قاضي عبدالقادر د پېښور یوسفزی و. په پښتو،فارسي ،اردو او انګریزي ژبو پوهېدئ . ده د امیرشیرعلي خان په دربارکي د امیر د مصاحب اوپه عسکري چاروکي دمنشي په توګه کار کاوه . امیر ور ته

د حربي فابريکو مشري هم ور کړې وه . دا سړي د هغه وخت په ټولو عسکري او ادبي تحولاتو کي لاس درلود . په فارسي او پښتو ژبه کي چي کوم انګليسي کلمات ( کلنل ، ميجر ، شرپنل ،.... ) وارد واره رواج سوي دي ، دهمدغه قاضي کارنامه ده . مور خين وايي چي دی مرموز سړی و . دی دامیرعبدالرحمن خان په پاچهي کي لا په کابل کي اوسېدئ . په دغه وخت کي يې د اميرعبدالرحمن خان په پلوي يوه ويناوکړه . خلک پر راوغورځېدل او دی په تېښته له کابله ووت چي ترننه يې بياچا پته نه ده معلومه کړې . ( غبار- تاريخ ادبيات افغانستان - ۱۴۲مخ - د۱۳۷۸ش چاپ) .

د اميرشيرعلي خان په وخت کي پښتو ژبي ته هم پاملرنه سوې ده او ټولي عسکري بولۍ او اصطلاحات په پښتو ټاکل سوي دي ( د کاکړله مقالې څخه فارسي شعر) . امير شيرعلي خان په هيواد کي د رسمي ښوونې او روزنې دبنسټ ايښوونکي په توګه پېژندل سوئ دئ . ځيني مورخين دامیردغه اصلاحات د سيدجمال الدين افغان د افکارو اغېزه بولي .

د اميرشيرعلي خان ټولي هيوادپالي هڅي پرافغانستان باندي دانګرېزي لښکروپه راتويېدلو سره پای ته ورسېدې او هيواد بيا د جګړومیدان و ګرزېد . په پای کي افغاني مقاومت ترڅه کم دووکالومسلحانه مبارزو وروسته انګرېزي لښکري بيرته وتلو ته اړ ايستلې او د انګرېزي دولت په انتخاب باندي امير عبدالرحمن خان د کابل تخت ته ورسېد .



د امير عبدالرحمن خان دوره له بې نظميو او ملوک الطوايفو سره په جګړو کي تېره سوه . ده په مسلکي او نظامي برخوکي لا يو څه توجه لرله او د ده په وخت کي د وسلو جوړولو او نورو تخنيکي چارو ماهران افغانستان ته راوغوښتل سول خو د ښوونې او روزنې په برخه کي يې کوم دياداوني وړاقدام ونه کړ . د ده په شل کلنه واکمني کي په کابل کي د چوبفروشۍ مدرسه فعاله وه او خرڅ يې د دولت له خواورکول کېدئ . نورنوپه ټول هيواد کي له خصوصي مدرسواوپه مسجدوکي دتعليمي حلقو پرته کومه مدرسه يامکتب وجودنه درلود .



اميرعبدالرحمن خان د ۱۹۰۱ ع کال د اکتوبر پر اوله دنقرس ناروغۍ له امله مړسو او پرځای يې مشر زوی حبيب الله خان د پاچهۍ پرتخت کښېنوست ، چي ځان ته يې سراج الملة والدين اميرحبيب الله نوم غوره کړ . اميرحبيب الله خان ته د پلارله خوا يو آرام او له سرکښانو خالي هيواد په ميراث پاته سوی و . هغه دولتونه علم او پوهني ته پاملرنه کوي، چي په خپل قلمروکي دننه ياتر هغه دباندي کورني اوبهرني پرابلمونه او جنګي او نظامي ستونزي ونه لري ، په هيوادکي دننه ورته ثبات او آرامي ميسره وي اوپه ملت کي يې دفرهنګي بدلون له پاره غوښتنه موجوده وي . اميرحبيب الله خان په دغه راز يوه موقعيت کي ولاړ پاچاو . دی په هيوادکي د مشروطه غوښتني له ژور ملي خوځښت سره مخامخ و او له دغه خوځښت سره په مقابله کي مجبور و ، چي هيوادته د مدنيت ، علم او عرفان نيمکښه لار پرانيزي . په دې لړکي نوموړي د دارالعلوم

حبیبیه په نامه یوه مدرسه دکابل په چوبفروشي کي په ۱۹۰۳ ع کال پرانیستله اوخپل ورورسردارنصرالله خان یې دهغه آمروټاکه . د تدریس چاري یې په لومړي سرکي دلسوتنوهندي اوداخلي ښوونکو پر غاړه وې . د زده کوونکو شمېر یې څلور سوه تنوته رسېدئ او تدریسي کتابونه یې دلاهور په انجمن حمایت اسلام کي تالیف اوترجمه کېدل . حبیبیې مدرسې درې درجې درلودې : ابتدائیه ، رشدیه اواعدادیه . په ابتدائیه کي دینیات ، فارسي ، حساب ، جغرافیه اومشق تدریس کېدل . تعلیمي دوره یې څلورکاله وه . په رشدیه کي ، چي دوره یې درې کاله وه ،د دینیات ، جغرافیې ، تاریخ ، فارسي ، پښتو ، انگلیسي ، اردو ، تورکي ، رسم ، حفظ الصحه ، رقوم اوسیاق ( حساب) درس ورکول کېدئ . په اعدادیه کي دینیات ، فارسي ، تاریخ ، جغرافیه ، جبرومقابله ، مثلثات ، هندسه ، حکمت طبیعي ، کیمیا اوانگلیسي مضامین تدریسېدل او دوره یې درې کاله وه . دحبیبیې مدرسې کلني مصارف دکاله یولک کابلۍ روپۍ ټاکل سوي وې . ددې مدرسې په وروستیوکلونوکي دزده کوونکوشمېر څه دپاسه یونیم زروتنوته ورسېدئ .دامدرسه زموږ دهیوادپه معاصر تاریخ کي لومړنی عالي مکتب و ، چي وروسته بیا د مشروطه غوښتونکو په سیاسي مرکز بدل سو او د هغه وخت زیاترو منورینو له همدغه عالي مکتب سره اړیکي درلودل .

په دارالعلوم حبیبیه کي پښتو ژبه هم په کال ۱۹۱۵ ع کي د دغې مدرسې په تدریسي نصاب کي شامله سوه . زموږدهیواد زیاتره نخبگان په دغه ستر روزنځای کي روزل سوي وو . دامیرحبیب الله خان دپاچهۍ په اتلس کلنه موده کي پر حبیبیه مدرسې سربېره په کابل کي لومړنی مکتب حربیه ( ۱۹۱۰ ع ) ، لومړنی دارالمعلمین ( ۱۹۱۳ ع ) او پنځه لومړني مکتبونه ( ۱۹۱۴ ع ) تاسیس سول . د دارالمعلمین اولومړنیو ښوونځیو په جوړېدوکي د اروابناد مولوي عبدالرب هلي ځلي ځانگړی مقام لري . نوموړی د دارالمعلمین مدیر اودلومړنیو مکتبوسرښته دار و، چي دمرگ تروخته ( ۱۹۱۹ ع ) پوري یې همدغه وظیفه پرغاړه وه (۱) . دحربیې مکتب درې کوچنۍ ځانگي هم درلودې چي دخورد ضابطانومکتب ( عسکری ملک زاده ها) ، دجدیدالاسلام مکتب ، (د نورستانیانو له پاره) او دحضورد اردلیانومکتب . دحربي مکتب ښوونکي تورک اوافغان وه . دامیرحبیب الله خان دپاچهۍ په وروستیووختوکي طبي مکتب هم پرانیستل سو ( ۱۹۱۸ع) . دامیرحبیب الله خان په عصرکي د معارفو نظارت د امیر د مشرزوی سردار عنایت الله خان پرغاړه وه . د ده په لارښوونه انجمن معارف تاسیس سو ( ۱۹۱۲ ع ) ،چي مشري یې هم ده کوله . د دغه انجمن له پاره نظامنامه هم جوړه سوه . دغه رازپه کال ۱۹۱۸ ع کي دافغانستان د ابتدایي مکاتبو اودارالمعلمین نصاب ترتیب اوخپورسو .



امیرحبیب الله خان د ۱۹۱۹ع کال دفبرورۍ پرشلمه نېټه دلغمان په کله گوش کي ووژل سو اوپرځای یې په کابل کي شهزاده عین الدوله امان الله خان دپاچهۍ اعلان وکړ، چي ډېر ژرد سلطنت دبل مدعي شهزاده نصرالله خان اودټول افغانستان دخلکوله خوابیعت ورکړه سو . داعلیحضرت امان الله شاه غازي د پاچهۍ اول اقدام داستقلال اعلان و او وروسته یې په هیوادکي د ژورو عرفاني اومدني بدلونونو د راوستلوپه لارکي هلي ځلي وې . نوموړي دافغانستان په تاریخ کي دوهمه منظمه کابینه جوړه کړه ( ۲ )، چي په دغه کابینه کي دمعارفو وزیر ، چي په هغه وخت کي یې ورته ناظر معارف وایه ، عبدالحبیب خان وټاکل سو . د

معارفو د وزارت له پاره یې د شهر آرا ماڼۍ وټاکله . ددغه وزارت په لومړیو کارونو کې د «معرف معارف» په نامه دیوې مجلې خپرېدل و ، چې لومړۍ ګڼه یې د۱۲۹۸ ش کال دسنبلې پراوله خپره سوه ( ۲۴ اګست ۱۹۱۹ ع) او په هغه کې دمعارفو د پراختیا پر ضرورت باندي اوږده مطالب خپاره سول . په همدې کال د معارفو د وزارت چاري سردارمحمدسلیمان خان ته وسپارلي سوې اود ده په لارښوونه د معارفو په چوکاټ کي لومړنی علمي انجمن جوړسو ( جوزا ــ ۱۲۹۹ ش ) . په اماني عصر کي د معارفو د پراختیاپه لړ کي دغه کارونه سرته ورسېدل :

- داصول دفتري په نامه دیوه مکتب پرانیستل ( سرطان ۱۲۹۹ ش )
- په جلال ابادکي دلومړنیو ښوونځیو جوړېدل ( اسد ۱۲۹۹ ش )
- په پکتیاکي ابتدایي مکتبونه جوړېدل ( عقرب ۱۲۹۹ ش )
- په کابل کي د «مکتب مستورات» په نامه د نجونو لومړنی مکتب جوړېدل ( دلو ـ ۱۲۹۹ ش )
- په کندهارکي د «مکتب تجار» په نامه لومړنی مکتب جوړېدل ( حمل ۱۳۰۰ ش )
- په کابل کي دمکتب حکام پرانیستل ( سرطان ۱۳۰۰ ش )
- په کابل کي دمکتب قضات پرانیستل ( عقرب ۱۳۰۰ ش )
- په کابل کي داعدادي مکتب پرانیستل ( سنبله ۱۳۰۲ ش )

اعلیحضرت امان الله شاه غازي په ۱۳۰۲ ش کال په کابینه کي ځیني بدلونونه راوستل او په هغوکي دمعارفو وزارت سردارفیض محمد خان ته وسپارل سو . د ده د وزارت په وخت کي د «معرف معارف» مجله په «آئینهٔ عرفان» باندي واوښتله ، چي د معارفو وزارت د دارالتالیف ریاست له خوا خپرېدله . دغه رازله ترکیې او بلژیک سره د زده کوونکو د روزني قراردادونه لاسلیک سول . په دغو کلونو کي معارفو ته پنځلس میلیونه افغانۍ بودجه ورکړه سوې وه ، چي د هیواد د هغه وخت په شرایطوکي یوستر رقم و . په دغه وخت کي د حربیې وزارت بودجه څلوېښت میلیونه افغانۍ وه .

په اماني دوره کي له ۱۳۰۳ ش څخه تر۱۳۰۷ ش کال پوري دټول هیوادپه سطحه کي ۳۲۲ نوي مکتبونه جوړسول . دلومړنیو مکتبو د زده کوونکو شمېر ( ۵۱۰۰۰) تنو ته ورسېدئ . په دغو څلورو کلونو کي ۴۸۲۳ تنه له لومړنیو ښوونځیوڅخه ، ۱۵۸ تنه له عالي ښوونځیو څخه فارغ سول . ۱۵۱ تنه خارج ته ولېږل سول ، چي ۱۷ تنه یې په همدغوکلونوکي دفراغت سند له تر لاسه کولو وروسته هیوادته راستانه سول . په دغوکلونوکي د معارفو وزارت ۱۳۳ټوکه کتابونه تالیف کړل اوشپږ لکه دري نوي زره پنځه سوه پنځه اویا( ۲۹۳۵۷۵ ) ټوکه یې چاپ کړل . ددغه مدنیت پالونکي پاچا د واکمنۍ دوره دنړیوال استعماري سیستم په لاسوهنه او پخپله ددغي واکمنۍ دارکانو له خوادځینو ناعاقبت اندیشانه کارو د تر سره کولو اوځینو نورو عواملوله امله د ۱۹۲۹ ع کال په جولای کي پای ته ورسېدله اوپرځای یې دکلکاني حبیب الله (دسقاوزوی) توره یوکلنه دوره منځ ته راغله . په دغه دوره کي نه مکتب وجود درلود نه د معارفو اداري . بس یوه توره دوره وه ، چي دهیواددویاړلي تاریخ ښکلې څېره ورباندي بدرنګه ښکاري .



داعلیحضرت محمدنادرخان دپاچهۍ په څلورکلنه دوره ( میزان ۱۳۰۸ ش ـ عقرب ۱۳۱۲ ش ) کې د معارفو کارونه بیرته له سره پیل سول اوکوښښ وسو هغه نیمګړتیاوې اصلاح سي ، چې په اماني دوره کې دښووني او روزني په برخه کې موجودي وې .

په دغه دوره کې د معارفو په برخه کې لومړی کار د عربي دارالعلوم جوړېدل ( ۱۳۰۹ ش ) اودمکتب حربیه له سره پرانیستل و . د ۱۳۱۱ ش کال په جوزاکې د افغانستان پوهنتون له پاره یومجلس جوړسو او د دارالامان ماڼۍ یې د پوهنتون له پاره وټاکله اونوم یې دارالفنون پرکښېښوو ( ۳ ) .



اعلیحضرت محمدنادرشاه د ۱۹۳۳ ع کال دنومبرپراتمه دعبدالخالق نامي د تفنګچې په ګولۍ ووژل سو اوپه هماغه ورځ یې زوی د المتوکل علی الله محمدظاهرشاه په نامه پرتخت کښېنوست . د ده د پاچهۍ په سرکې دمعارفوچاري دسردارعلي احمدخان پرغاړه وې او وروسته د سردارمحمدنعیم له خواسرته رسېدلې . د محمدظاهرشاه په دوره کې د عصري ښووني او روزني په برخه کې اساسي ګامونه واخیستل سول . د دغي څلوېښت کلني دورې په اوږدوکې د ښووني اوروزني د کارو تفصیل زما د دغي لیکني ترحوصلې وتلئ کاردئ خو دومره ویلای سم  چې د سردار محمد داود د صدارت تر پایه پوري په افغانستان کې دهلکانودښوونځیو شمېر ۱۲۴۸ ته ، دنجونو د مکتبو شمېر ۱۷۸ ته ؛ د هلکانو زده کوونکوشمېر ۲۰۳۲۱۲ اود نجونو زده کوونکو شمېر ۳۱۲۸۹ ؛ د نارینه ښوونکو شمېر ۴۸۲۸ او د ښځو ښوونکوشمېر ۸۷۰ ته  رسېدئ .په هیواد کې د دموکراسۍ اوپارلماني سیستم په راتګ سره دغه ارقام نور هم څو چنده مخ ته ولاړل . دمحمدظاهرشاه د پاچهۍ په وروستي کال کې دپوهنتون دمحصلانوشمېر ۷۰۰۰ تنوته رسېدئ چې په هغوکې دوه زره تنه یې په مرکزي لیلیه کې اوسېدل . دپوهنتون د داخلي استادانوشمېر ۲۴۰ تنه و چې په هغوکې ۲۱ تنې ښځې استاداني وې . دخارجي استادانوشمېر ۱۹۴تنوته رسېدئ . په دغه کال کې د پوهنتون له بېلابېلو پوهنځیو څخه یوزرتنه فارغان ټولني ته وړاندي  سول . موږ په هیوادکې د عالي تحصیلاتو ستر مرکزونه و موندل چې تحصیلي نصاب یې د پرمختللو هیوادوله نصاب سره ترډېري اندازې ورته والی درلود . که څه هم د دغي دورې منقدین دغه اقدامات کافي نه ګڼي خو حقیقت دا دئ ، چې افغاني ټولني د پرمختګ پرلوریون  پیل کړی و او که د روسي ښامار منګولي زموږ د ببوزلي ملت مرۍ ته رسېدلي نه وای ، زمایقین دئ چې افغانستان به په همدغو ورو وروګامونوباندي د نړۍ دملتونوپه کتارکې یومناسب ځای ګټلی وای .



په افغانستان کې د  داود  خان د جمهوري نظام په منځ ته راتګ سره دهیوادپه ښوونه اوروزنه کې ځیني بدلونونه راغلل . دښووني اوروزني وزارت په چوکاټ کې د لیک لوست د زده کړي کورسونه جوړسول . د جمهوریت د لنډي پنځه کلني دورې په پای کې دټول افغانستان په سطحه کې ۱۲۲۸ کلیوالي ښوونځي ، ۱۱۲۱ لومړني ښوونځي ، ۲۲۵ منځني ښوونځي ، ۱۸۰ لیسې ، ۹ دارالمعلمینونه ، ۲۰ دیني مدرسې ، ۳ میخانیکي لیسې او۱۹ نوري مسلکي لیسې فعالي وې ( وګ : تاریخ معارف افغانستان ـ ۹۲مخ د ډاکټر جمیل الرحمن کامګار لیکنه ) .

لکه وړاندي چي مي وويل داارقام ديوه هيوادپه سطحه کي کافي نه وه ، خواميدبخښونکی وه .

د ثور د ناولي کودتاه په راتګ سره زموږ د هيواد مقدرات د روسپالو لاس ته ورغلل . هغوی روس ته د وفادارۍ تراغېزي لاندي ، چي دوی ورته « سوېتيزم » وايه ، دهيواد د معارفو سيستم ته درانه تاوانونه ورسول . بېله هيڅ راز منطقي توجيه څخه يې دښووني اوروزني نصاب د شوروي اتحاد له تعليمي نصاب سره يوشان کړ اوهيڅ رازافغاني مميزات يې په پام کي ونه نيول . په تعليمي چاروکي دواکمن ګوند لومړنيو سازمانو دومره لاسوهني پيل کړې ، چي اصلا د ښووني او روزني کيفيت بل شکل واخيست . د تعليمي اسنادو د ترلاسه کولو له پاره معيار پرګوندي فعاليتو باندي متکي سو . د هيوادعلمي کدرته د ګوندي اړيکوپراساس غير مستحق کسان شامل سول اودې کار د زده کوونکو او محصلينو علمي سطحه له مځکي سره برابره کړه . ان تر دې چي اکاډميکي رتبې دسياسي وصلتو په جهيز کي ورکول سوې . ښوونځي په نظامي بارکونوباندي بدل سول اونور اونور چي تر ډېره وخته پوري يې دوام وکړ.

دعبدالقادرخان ختېک خبره :

سيندخوني ، بادمخالف شپه توره تمه
ګـــــــوره چيرته به شې سرزماجهازه

## لمنليکونه

( ١ ) دغه سترعالم باعمل دمولوي شهيدعبدالواسع کندهاري وروروکېدی . امان افغان جريدې دده دمړيني په مناسبت ليکلي و چي داميرحبيب الله خان په مرګ باندي دسلطنت په مقام کي ، دمولوي عبدالرب په وفات باندي دشريعت په مقام کي اودضيامعصوم نقشبندي چارباغي په مړينه باندي دطريقت په مقام کي ستري خلاوي منځ ته راغلې اوپه يوه واردرې سره مقامه خالي سول . ددغو ذواتومړينه تقريبا پرله پسې واقع سوې ده ( تاريخي پېښليک ـ ٢٣٠ مخ ) .
خدارحمت کند آن عاشقان پاک طينت را

( ٢ ) لومړی کابينه داميرشيرعليخان په پاچهۍ کي دصدراعظم سيدنورمحمدشاه کندهاري په مشرۍ په ١٨٧٠ ع کي جوړه سوې وه .

( ٣ ) دنادرخان په دوره کي ټول هغه ځايونه چي دامان الله شاه غازي په نامه نومول سوي وو ، واړول سول . دامانيه مکتب نوم په « استقلال » اود اماني مکتب نوم په « نجات » باندي بدل سو .

يادونه :

ددې ليکني عمده ماخذ دعلامه حبيبي اثر « دافغانستان تاريخي پېښليک » دئ . ښاغلي رفيع صاحب يووخت راته وويل چي علامه مرحوم په ژوندکي ددغه اثر له چاپي تېروتنوڅخه شکايت درلود . نوکه دځينوارقامو اواعدادوپه برخه کي تېروتني پېښې وي، هيله ده لوستونکي مي معذور وګڼي . ( م ـ هوتک )